# د سویډن د پریښودلو د مخې نه په دغه شیانو باید فکر وکړی

تاسی چه دبیرته تللو په هکله فکر کوی یا په دی هکله مو پریکړه کړی، په یقین سره ډیری پوښتنی لری. د مهاجرینو اداره غواړی ستاسوسره د یوی اساسی پریکړی لپاره مرسته وکړی. د دی لپاره به دوی هغه شیانو ته اشاره وکړی چه تاسی د هغوی په هکله فکر وکړی. په دغه لیست کی کیدای شی نورجزیات هم علاوه شی، په همدی دلیل دلته خالی ځای د ستاسو د یاد داشتو لپاره شته.

**د دی شیانو په باره کی فکر وکی:**

**... روغتیا**

- ☐ آیا په هغه هیواد کی چی غواړی هلته استوګنه وکړی د روغتیا د خدماتو کارونه ئی څنګه دی.
- ☐ آیا ضروری دواوی هلته شته چی وئی پیری.
- ☐ آیا د معیوبینو دپاره کومکی وسایل هلته شته چی لاس ته ئی راوړی.
- ☐ واکسینونه باید د سفر نه مخ کی ووهل شی.
- ☐ د ډ اکټرانو ژورنالونه کوم چی ضروری دی (او احتمالاً د هغو ترجمی).
- ☐ ........................................................
........................................................

**... کار**

- ☐ د عملی کار دوره په کوم شرکت کی. که وغواړی چی په سویډن کی کوم کار زده کړی او هغه کار ته په هغه هیواد کی چی تاسی تلونکی یاست ادامه ورکړ، د دی کار په باره کی د کار د اداری (Arbetsförmedlingen) سره اړیکی ونیسی.
- ☐ په سویډ ن کی د عودت په پروژه کی ګډون چی تاسی ته په هغه هیواد کی بهتره امکانات برابروی.
- ☐ ډیپلومونه، شهادتنامی، د نمری پارچی او رابط خلګ چی ستاسی د آینده کار دپاره د اهمیت وړ وی (او احتمالاً د سندو ترجمی)
- ☐ په سویډن کی د اړیک, ساتل د مثال په توګه د مکتب او د خپل کار د ځای سره.
- ☐ د خپل استخدام تصدیق چی په هغه هیواد کی خپل نوی کارفرما ته ښکاره کړی.
- ☐ ........................................................
........................................................

**... مکتب**

- ☐ هغه هیواد ته چی کډه کوی د هغه د ادارو او دفترونو سره د پوهنې او زده کړی د معلومات د لاسته راوړلو په خاطر اړیکی ونیسی.
- ☐ دلته د هغو شهادتنامو او نمرو تکمیل کول چی هلته ضرورت ورته لری.
- ☐ په سو یډن کی تعلیم او تحصیل زده کړی داسی چی دا د بری لیک هم لاس ته راو ړی.
- ☐ د سو یډن د ښونځیو او کورسونو شهادتنامی ترجمه کړی.
- ☐ ........................................................
........................................................

**... امنیت**

- ☐ هغه لازمی قانونونه چی په تاسی پوری اړه لری (کولای شی چی د هغه هیواد د نمایندګی سره چی تاسی ته دلته نژدی وی اړیکی ونیسی).
- ☐ ستاسی حقوق او مکلفیتونه په هغه هیواد کی چی کډه کوی.
- ☐ د جنګی منطقی خطرونه، د مثال په ډول مینونه او راکټونه.
- ☐ قومی اختلافونه چی اوس هم ادامه ولری.
- ☐ ........................................................
........................................................

**... ستاسی کور په سو یډن کی**

- ☐ معلومات وکی چی څه باید د نقل مکان نه مخ کی د خپل کور د تخلیی احوال ورکړی.
- ☐ د مالیی ریاست ته د خپل نقل مکان احوال ورکړی اود نقل مکان فورمه"Flyttning till utlandet" وغواړی.
- ☐ خپل آدرس د پوسته خانی په دفتر کی بدل کړی.
- ☐ د ټلیفون او ورځپانی اشتراک ختم کی.
- ☐ ........................................................
........................................................

Migrationsverket
601 70 NORRKÖPING
www.migrationsverket.se

### .... د کور مسئله په هغه هیواد کی چی نقل مکان کوی

☐ د کور د پیدا کولو مسئله
☐ د هغه کور قباله چی کډه پکښی کوی او لازم حقوقی معلومات او مرسته.
☐ د کوټی یا آپارتمان ترمیم
☐ خپل نږدی دوستانو ته د خپل نوی کورپته ورکول.
☐ ........................................................
........................................................

### ... اقتصادی مسئلی په سویډن

☐ د اجتماعی چارو د بیمی د اداری (Försäkringskassan) مقررات د تقاعدی پس انداز ، د ناروغی معاش (sjukbidrag) ، د ماشوم درلودل مالی مرسته (barnbidrag) او داسی نور...... د هغو کسانو دپاره چی سویډنی تابعیت نلری.
☐ که تحصیلی پور او یا د کور د شیانو د رانیولو پور ولری نو د زده کړو د پورونو مرکزی دفتر (CSN) سره اړیکی ونیسی.
☐ د خپل پور مسئله د سفر نه مخ کی د قسط یا کوم بل توافق په ډول حل کړی.
☐ په هغه ځای کی چی اوس اوسیږی د کمیون څخه ئی د مالی مرسته غوښتنه وکړی.
☐ د مهاجرینو د ریاست څخه وطن ته د عودت په خاطر د مالی مرسته غو ښتنه وکړی.
د ټلیفون لمبر ئی 235 235-0771 دی.
☐ ........................................................
........................................................

### ... اقتصادی مسئلی په هیواد کی چی غواړی استوګنه وکړی

☐ د اجتماعی چارو بیمه لکه تقاعدی، قرارداد، مالی مرسته و داسی نور شرایط په څه ډول دی.
☐ د تعلیم او تحصیل شرایط په څه ډول دی، د بیلګی په توګه تحصیل مفت دی او آیا د زده کړی مالی پور او بورس امکانات شته.
☐ دولتی مرستی د کور د رانیولو یا د شرکت د خلاصولو دپاره.
☐ بشری یا خیریه مؤسسی د کمک د ضرورت په وخت کی.
☐ ........................................................
........................................................

### ... سفر

☐ د خپل سفر د ورځی څخه په کافی اندازه تر مخه، د خپل شیانو د ټرانسپو رټ او لیږلو چاره وکی.
☐ خپل سفر او د بارونو ټرانسپورټ بیمه کړی.
☐ هغه سندونه چی ضرورت ورته لری د ځانه سره ولری د بیلګی په توګه، پاسپورټ، د احوال د ثبت پاڼه (personbevis) ، د تحصیلی او کاری سوابقو یادداشت (CV)، د آخرنی کلو د مالیاتو د تصفیی کاغذونه، ګمرکی سندونه او داسی نور.
☐ ........................................................
........................................................

پخپل منځ په دوستانه او آزاده فضا کی هر یو د خپل عودت او هیلی په باره کی خبری وکړی. دا مهمه ده چی تاسی د خپل ماشومانو سره پدی باره کی خبری وکی. دوی شاید چی په سویډن کی لوی شوی وی او د دی مسئلی د پوهیدل په باره کی ستاسی کمک ته ضرورت ولری.

دا هم مهمه ده چی خپل کورنی او نږدی دوستان چی هلته ژوند کوی د خپل عودت څخه با خبر کی. داسی تماسونه د سفر د حرکت څخه تر مخه ستاسی د پلانو دپاره د اهمیت وړدی.

دا بحث هم پخپل منځ کی وکی چی که د عودت تصمیم تطبیق نشی او یا کارونه ستاسی د فکرو سره مطابق مخ ته ولاړ نشی.

د مهاجرینو ریاست، پورتنی معلومات د لاندنی ځایو په همکاری را ټول کړی دی:
د سویډن صلیب احمر، د اجتماعی تبلیغ مؤسسه (-Socia la Missionen)، کاریتاس سویډن(Caritas Sverige)، د ستکهلم د ښاروالی د عودت اداره او د سویډن د کمیونو عمومی اتحادیه .(Svenska Kommunförbundet)